# د آستراليا او د افغانستان د اسلامي جمهوريت

## تر منځ

## اوږد مهاله هر اړخيزه همکاري

۱ د آستراليا حکومت او د افغانستان اسلامي جمهوريت حکومت چې وروسته له دې آستراليا او افغانستان، او يوځای حکومتونه يادېږي، د سولې، دموکراسۍ، پرمختيا، ملي حاکميت ته د درناوي، د بشر د حقونو او د قانون د حاکميت په وړاندې ګډه ژمنه لري.

۲ حکومتونه د يوه با ثباته ، په امن ، دموکراتيک، د بين المللي تروريزم په وړاندې د مقابلې لپاره د توانمنۍ لرونی، سيمه يزې سولې ته ژمن او په نړيواله ټولنه کې په کارنده برخه اخيستنې سره د افغانستان په نسبت د دوی د ګډو ګټو اهميت درک کوي.

۳ حکومتونه، د دولتونو تر منځ د اختلافونو سوله ييزه حل او د ځمکنۍ بشپړتيا اصل ته د پام ساتلو په برخه کې خپله بيا ژمنه څرګندوي.

۴ حکومتونه د لندن، کابل، لزبن او بن د کنفرانسونو او همدارنګه د موجودو دوه اړخيزو ژمنو په راپادولو سره او د دواړو هيوادونو تر منځ د دوستۍ د ژورو اړيکو او تاريخي پيوندونو پر بنسټ په لاندې برخو کې د ستراتيژيکو ګډو ګټو پر بنا د همکارۍ لپاره د اوږدې مودې په مشارکت هوکړه کوي.

### سياسي:

۵ حکومتونه د بين المللي قوانينو سره په مطابقت يو د بل ملي حاکميت، خپلواکۍ، او په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې اصولو ته خپل درناوی څرګندوي او د آسيا په زړه کې د افغانستان موقعيت

ته په پام سره، له سیمه ییز ټیکاو( ثبات) او سوله ییزو اړیکو څخه د ملاتړ په برخه کې ګډه هڅه کوي.

۶ حکومتونه ، په بین المللي او سیمه ییزو ټولنو کې له ګډو او څواړخیزو کتو څخه د ملاتړ په منظور، او د دوه اړخیزو، سیمه ییزو او بین المللي موضوعګانو په اړه د منظمو سیاسي مشورو په شمول، د تطبیق وړ، بین المللي تړونونو او میثاقونو مطابق خپلو مکلفیتونو ته په درناوي سره ، همکاري کوي.

۷ استرالیا هغسې چې د افغانستان په اساسي قانون کې تضمین شوي، د بشر د حقونو، د ښځو او نارینه وو د حقونو د برابري په شمول د قانون د حاکمیت پر بنسټ د باثباته او دموکراتیکې ټولنې په جوړولو کې د افغانستان د خلکو پر له پسې هڅو ته هر کلي وايي.

حکومتونه په خاصه توګه د ښځو او انجنو د حقونو د پراختیا او ساتنې په برخه کې په خپلو ژمنو ټینګار کوي، له یادو شویو هڅو څخه په ملاتړ سره، استرالیا د بشر د حقونو د ساتنې په برخه کې د افغانستان د حکومتي او نورو ملي بنسټونو د ظرفیت په جوړولو کې همکاري کوي.

۸ حکومتونه، په افغانستان او سیمه کې سولې او امنیت ته د لاسرسي لپاره دسیاسي حل اهمیت درک کوي او څرګندوي چې د سولې پروسه باید د افغانانو په رهبري او مالکیت او تاوتریخوالي د پریښودو ، له بین المللي تروریزم سره د اړیکو د پرېکون او د افغانستان اساسي قانون ته د درناوي پر بنسټ عملي شي.

حکومتونه، د سولې د سیمه ییز ملاتړ پر اهمیت بیا تاکید کوي. استرالیا د سولې او مصالحې د بلې کېدو لپاره د سولې او بیا یوځای کېدو د برنامې په شمول له افغاني برنامو څخه ملاتړ ته دوام ورکوي.

**امنیت:**

۹ حکومتونه، د تروریزم ، مخدره موادو، د انسان د قاچاق او سازمان شویو جرمونو په شمول، فراملي ګواښونوته د رسیدګي لپاره پر خپلو ژمنو بیا ټینګار کوي.

۱۰ حکومتونه، په ګډه سره او د نړۍ والې ټولنې د غړو سره یوځای د تروریستي ډلو له تهدید سره په مبارزه کې له افغان امنیتي ځواکونو سره د مرستې او د افغانستان حکومت ته د امنیتي مسوولیت د رهبرۍ د لېږد په بهیر او همدارنګه د ۲۰۱۴ مېلادي کال څخه وروسته ، د دوه اړخیزې هوکړې مطابق همکاري کوي.

۱۱ دغو موخو ته د رسېدو لپاره، حکومتونه، ملي امنیتي ګډو تنګونو ته په رسیدګۍ کې خپلو اوږدمهالو همکاریو ته پراختیا ورکوي او په ګډه سره د افغان ملې امنیتي ځواکونو د ظرفیت د لوړولو او له افغان ملې امنیتي ځواکونو څخه د بین المللي ملاتړ د پراختیا لپاره خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي، د دفاعي ټاکلو همکاریو تنظیمول مرتباً بررسي کیږي او کېدای شي له تروریزم سره د مبارزې څخه ملاتړ، د افغان امنیتي ملي ځواکونو د ظرفیت د لوړولو لپاره د ښوونکو او مشاورینو د استخدام په شان برخې پکې شاملې شي.

د لېږد د پروسې د پای ته رسېدو وروسته، د مرستو سطحه او ډولونه کېدای شي پراختیا ومومي چې په استرالیا کې د مسلکي ښوونو د فرصتونو په رامنځ ته کولو سره د دفاعي همکارۍ برنامې پکې شاملیږي.

۱۲ برسېره پر دې، حکومتونه، د ظرفیتونو د پرمختیا او د قانون په تطبیق کې د همکارۍ په معمولو نورو ساحو کې چې کېدای شي له مخدرو موادو، تروریزم، د انسان له قاچاق او له فراملې سازمان شویو جرمونو سره مبارزه پکې شامله شي، د خپلو فعالیتونو په سرته رسولو کې د دایمي همکارۍ لپاره پر خپلو ژمنو بیا بیا تاکید کوي، او له پولیسو سره د همکاریو مشخصې ساحې د حکومتونو په تصمیم سره وخت پر وخت په ګوته کیږي.

**پرمختیا:**

۱۳ د موجودو همکاریو پر بنسټ، حکومتونه له یو بل او د نړیوالې ټولنې د نورو غړو سره په فعالیت کې د افغانستان د خلکو اغېزمنو پرمختیایي پایلو ته د لاسرسي په منظور په خپل ګډ لیډلورۍ ټینګار کوي.

۱۴ حکومتونه، د افغانستان خلکوته د اساسي خدمتونو د وړاندې کولو او د اقتصادي فرصتونو د برابرولو لپاره، د افغانستان د حکومت د ظرفیت په لوړولو کې پر خپله ژمنه تاکید کوي. استرالیا، د خپلومرستو د پالیسي (دمرستو د اغیزمنتوب برنامې) پنځو استراتیژیکو موخو: د ژوند د خوندیتوب، د فرصتونو پراختیا، ثابته اقتصادي پراختیا، اغېزمنه حکومتداري، بشر خوښوونکو مرستو او پېښو سره مبارزې ته په پام سره ، د افغانستان څخه د خپل ملاتړ په بیا ټینګار سره دوام ورکوي.

۱۵ د استرالیا اړخ، افغانستان ته په خپلو مرستو سره په ۲۰۱۰ میلادي کال کې، په لندن او کابل کې د جوړو شویو کنفرانسونو د مفاد پربنسټ د ۲۰۱۰ میلادي کال( پراختیایي همکاریو) د وړاندیز شوي تفاهم لیک مطابق، د افغانستان د پرمختیایي او پلان جوړوني له لومړیتوبونو څخه ملاتړ کوي.

۱۶ حکومتونه هغو ځانګړو ننګونو ته په پام سره چې افغانستان د لېږد د پروسې او( بدلون د لسیزې) په بهیر کې ورسره مخامخ کیږي، خپله خاصه پاملرنه افغانستان ته د پرمختیایي مرستو لپاره د استرالیا د بنسټیزو، اوږدمهالو، ثابتو او اټکل شویو ژمنو په اړه د خپلو ګډو مسوولیتونو او ژمنو سره په مطابقت کې چې د کابل په پروسه او د بن په کنفرانس کې یې صورت موندلی دی، پاملرنه کوي.

په ژمنو کې موجودو پرمختګونو ته په پام سره د کلنیو ژمنو تصدیق، د ( د پراختیایي همکاریو) د تفاهم لیک د مفاد مطابق صورت مومي.

۱۷ ددې په درک کولو سره چې د افغانستان د اوږدې مودې اقتصادي وده او مالي ثبات د تولیدي سکتورونو په پرمختیا پورې تړلې دی، حکومتونه د طبعي زېرمو او د کرنې د سکتور د سرچینو د پراختیا او ثابت مدیریت لپاره په ړنه او اغېزمنه توګه همکاري کوي.

۱۸ استرالیا د زریزې پرمختیایي موخو(MDGs) ته درسیدو، د بې وزلۍ د راټیټولو، د خصوصي سکتور په رهبرۍ، د بازار د اقتصاد د لارې د ثابتې پرمختیا تضمین ته د لاسرسي او د ښوونو د کیفیت د لوړولو او لاسرسي د ښه کولو د لارې د بشري ظرفیت د رامنځ ته کولو او روغتیایي خدمتونو ته د ښې لاسرسي لپاره د افغانستان ملاتړ کوي.

۱۹ د افغانستان د حکومت د ظرفیت د پرمختیا لپاره د خپل ملاتړ د یوې برخې په توګه، استرالیا، په استرالیایي اړوندو بنسټونو کې د ټیټې رتبې د ډیپلوماټانو په شمول افغان ملکي مامورینو ته د زدکړې او مهارتونو د برابرولو لپاره خپلو همکاریو ته دوام ورکوي.

## سوداګري او پانګونه:

۲۰ حکومتونه، د اقتصادي پرمختیا او ودې لپاره د یوه سوداګریز پرانیستي او اتکل وړ چاپیریال پر اهمیت تاکید کوي.

استرالیا د یوه لږ پرمختللي هیواد په توګه د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د الحاق پر بهیر هوکړه کوي.

۲۱ په اړوندو هیوادونو کې د پانګونې له نافذو قوانینو، مقرراتو او پالیسیو سره په مطابقت کې، حکومتونه د دوه اړخیزې سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو د ټینګښت او پراختیا لپاره لازم مناسب اقدامات کوي، په دې اړه او دې ته په پام سره چې افغانستان یو لږ پرمختللی هیواد دی، استرالیا له ګمرکي قوانینو سره په مطابقت کې، د هغو ټولو کالیو په نسبت چې منشاء یې افغانستان وي د ګمرکي او د ونډې د معافیت له کړنلارې سره سم تر هغه وخت پورې چې استرالیا دغه ډول کړنلاره د لږ پرمختللو هیوادونو په وړاندې تعقیبوي، موافقه لري، د افغانستان لپاره د استرالیا د پرمختیایي پراخو مرستو د ژمنې د یوې برخې په توګه، او همدارنګه استرالیا د افغانستان د کالیو لپاره د تخنیکي مرستو برابرولو او تدارک ته پاملرنه کوي تر څو نوموړي کالي د استرالیا د بازارونو د معیارونو سره برابر شي.

۲۲ حکومتونه، د سوداګریزې پرمختیا او تبادلې د آسانولو په شمول د دوه اړخیزې سوداګرۍ او پانګونې د اړیکو د لوړولو لپاره فعالیت کوي او په افغانستان کې استرالیایي پانګونې ته د یوه مساعد چاپیریال د رامنځ ته کولو په لاره کې همکاري کوي.

## کډوالي او بشردوستانه چارې:

۲۳ حکومتونه د مهاجرت او بشر خوبنوونکو موضوعګانو په هکله د خپلو ژمنو په شمول ( د مهاجرت او بشر خوبنوونکو همکاریو) د تفاهم لیک مطابق چې د ۲۰۱۱ د جنوري په ۱۷ مه نېټه د حکومتونو او پناه غوښتونکو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له خوا لاسلیک شوی دی، همکاري کوي.

۲۴ حکومتونه په دننه او بهر کې د بې ځایه شویو افغانانو او هغو په شمول چې په ګاونډیو هېوادونو کې اوسېږي او یا افغانستان ته د ستنېدو په حال کې دي، بشري او معیشتي اړتیاوو ته د رسیدګی لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

## ثقافتي او ولسي پیوندونه:

۲۵ حکومتونه د افغانستان او استرالیا د خلکو تر منځ پیوندونه او ثقافتي اړیکې درک کوي او د هغو د پراختیا ژمنه کوي، حکومتونه د افغانستان د ثقافتي میراث په ساتنه او لوړولو او د افغانستان او استرالیا د خلکو تر منځ د مستقیمو اړیکو په لوړولو کې د ورزشي فعالیتونو او د ثقافتي ننداړتونونو د جوړولو له لارې هڅه کوي.

۲۶ حکومتونه د افغانستان لپاره د لوړو زدکړو اهمیت او د پوهنتونونو او لوړو زدکړو د موسسو تر منځ د همکارۍ اهمیت درک کوي، استرالیا د استرالیایي بورسونو په شمول د تحصیلي اړیکو پراختیا ته دوام ورکوي.

## تطبیق:

۲۷ حکومتونه په بین المللي ټولنه کې د وزیرانو په سطحه د لیدنو کتنو او ملاقاتونو په شمول د لا ځواکمنو دوه اړخیزو هڅو د شراکت د رامنځ ته کولو خاطر د دوه اړخیزو غونډو شبکې درک کوي او د هڅو په شریکولو سره د دغه شان ملاقاتونو لپاره لازمې اسانتیاوې برابروي.

۲۸ حکومتونه د دواړو خواوو په علاقې وړ برخو کې د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا او ځواکمنولو په منظور، د دواړو هیوادونو تر منځ په لوړه سطحه لیدنو کتنو او خبرو اترو ته پراختیا ورکوي.

۲۹ د حکومتونه هر یو د خپل متبوع هیواد قوانینو، مقرراتو او ملي پالیسیو ته په پام سره د بل لوري کارمندانو، استازو او قراردادیانو ته د اړتیا په صورت کې د دغه مشارکتي سند پربنسټ، خپل قلمرو ته د لاسرسي زمینه او آسانتیاوې برابروي.

**بنسټیز اقدامات:**

۳۰حکومتونه، د دغه مشارکت په تطبیق کې د پر مختګونو د بررسي او د ګډو ستراتیژیکو ګټو پرموضوعګانو باندې د خبرو اترو لپاره د یوه مېکانیزم د جوړولو په منظور د دوه اړخیزو همکاریو په غرض ګډ کمیسیون را منځ ته کوي، دغه کمیسیون به د دواړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ته رپوټ ورکوي.

۳۱ دغه ګډ کمیسیون د دواړو هیوادونو له استازو څخه جوړ دی او په ګډه سره د مناسبو جګپوړو مقاماتو په واسطه رهبري کیږي، نوموړی ګډ کمیسیون له اړتیا سره سم د دوه اړخیزو همکاریو پر مشخصو موضوعګانو باندې مشوره کوي او کولای شي کاري ډلې یا کمیټې را منځ ته کړي.

۳۲ هغه ژمنې چې ددغه سند د محتویاتو او روحیې سره مغایرې نه وي، محترمې ګڼل کیږي او له اړتیا سره سم د حکومتونو له خوا تر څېړنې لاندې نیول کیږي.

حکومتونه کولای شي نور تکمیلي مشخص سندونه د ګډون د دغه سند د تطبیق د پاره منعقد کړي.

۳۳ د حکومتونه تر منځ هر ډول اختلاف چې د دغه سند د تفسیر او پلي کیدو پر بنسټ رامنځ ته شي، په دوستانه توګه د مشورو، مذاکرو او نورو لارو څخه د دواړو خواوو په موافقې لیرې کیږي.

**وروستني حکمونه:**

۳۴ حکومتونه ددغه مشارکتي سند د ستراتیژیکي بشپړې څېړنې په وړاندې، د لاسلیک له نېټې څخه تر لس کاله وروسته پورې ژمن دي.

۳۵ دغه مشارکتي سند د اړوندو داخلي پروسې د نهایي کېدو په اړه د حکومتونو د وروستي یاد داښت له ور رسېدو وروسته نافذیږي او ترهغه وخته چې یو لوری شپږ میاشتې د مخه په لیکلي توګه بل لوری ته د سند د فسخه کیدو څخه خبر ور نه کړي، معتبر ګڼل کیږي.

دغه ګډون ممکن دی هر وخت د حکومتونو د دوه اړخیزه رضایت پر بنسټ په لیکلي توګه تعدیل شي.

دغه ګډون د افغانستان او استرالیا د حکومتونو د تفاهم یادونکی دی، هغسې چې په هغه کې تسجیل شوي دي، په دریو نسخو کې د ۲۰۱۲ د مې د شلمې مطابق د ۱۳۹۱ د غوایي پر یو دېرشمه نېټه په شېکاګو کې په انګلیسي، دري او پښتو ژبو لاسلیک شوی دی، د هغو په متن او تفسیر کې د اختلاف د رامنځ ته کېدو په صورت کې، انګلیسي متن ته لومړیتوب ور کول کېږي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت له خوا

جلالتماب حامد کرزی جمهور رئیس

د استرالیا د حکومت له خوا

عالی جنابه جولیا ګیلارډ لومړی وزیر